# د یوناما خبری کنفرانس


د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org


رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

ښاغلی علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر سرپرست

*کابل- د می د میاشتی پنځمه نیټه کال ۲۰۰۸*

**د یوناما خبری کنفرانس**

**یوناما:** ښاغلو او اغلو د یوناما د نن ورځی رسنیز کنفرانس ته ښه راغلاست. زما نوم علیم صدیق دی او د یوناما د ویاند د دفتر څخه یم.

## په کابل کې چاودنه

خبرونه را رسیدلي چي نن سهار په کابل ښار کې دري ماشومان وژل شوي او په بیلا بیلو پیښو کې ځینی پولیسان ټپیان شوی دي. ښکاري دا یوه بد مرغه پیښه ده. موږ د دې پیښي قربانیانو او د هغوي کورنیو ته خپله خواخوږي وړاندي کوو. موږ اوضاع د نږدی څخه څارو او د نویو معلوماتو په رارسیدو به دغه معلومات تاسو سره شریک کړو.

## د بامیانو د بودا تاریخی اثر ته هیڅ زیان نه دی رسیدلی

زه غواړم د هغو رپوټونو په هکله چي پرون په ډله ییزه رسنیو کې د بودا د پاتي شونو د زیان په هکله راغلی وضاحت ورکړم.

دا یوه کنټرول شوي چاودنه وه چي د ایساف له خوا د حکومت د بي وسلي کولو د ANBP د پروګرام په غوښتنه ترسره شوه. په دې هکله والی او ځایي خلکو ته اطلاع ورکړ شوې او په دې هکله ټول ضروري اقدامونه ترسره شوې وه چي د بودا د پاتي شونو د ممکنه زیان مخه ونیول شي.

د ملګرو ملتونو کارکوونکو چي د دغي سیمي څخه لیدنه ترسره کړې، دا پیښه تصدیق کړې او سیمه یي د ملکي خلکو لپاره خوندي کړې او په بشپړه توګه د کوم زیان څخه پرته ترسره شوه.

## په کابل کې د خپلواکی پر ورځ باندی برید

په رسنیو او هم په ملي شورا کې د تیري یکشنبي د ورځې د برید په اړه ډیر بحثونه او ګونګوسي دي. موږ ټول دا منو چي د برید د پیښي ځیرنه وشي، خو موږ په دې هم پوهیږو او دا منو چي ځیني خاموشه واقعیتونه شته:

کله چي برید پیل شو د مجرمینو مخه ونیول شوه او په څو دقیقو کې د افغاني امنیتي ځواکونو له خوا وځپل شول. دغه برید د دې لپاره ؤ چي د افغانانو د هغو قربانیو سپکاوې وکړي چي هغوي د خپلی آزادی لپاره ورکړې دي او په دې توګه د افغانانو تر منځ اختلافات رامنځته کړي.

افغانان باید د غو ډول تحریکانو په وړاندي یو موټی ودریږي او یو له بل سره پیوستون ولري.

کله چي د دغه ډول پیښه رامنځته کیږي موږ باید دې ته وګورو چي د دغه ډول پیښو د مخنیوی لپاره باید څه وشي، خو موږ باید په دې هم وپوهیږو چي امنیتي ځواکونو باندې په سختو شرایطو کې کله چي غږ وشو نو هغوي په خپل پوره همت سره د خلکو د تلفاتو تر وروستنی حد پوري مخنیوی وکړ او په بریالیتوب سره یي د ولسمشر ساتنه ترسره کړه.

کله چي دغه ډول بریدونه په کابل، لندن، او یا هم مادرید کې ترسره کیږي نو د هغو څخه تل باید زده کړه وشي، په داسي حال کې چي دا به همیشه ستونزمنه وي چي د دغه ډول بریدونو مخنیوی وشي چي د هغه چا له خوا ترسره کیږي چي د سولي او ټیکاو پر خالف ولاړ دی، موږ په دې برخه کې ولیدل چي د افغاني امنیتي ځواکونو له خوا د ترهګری ډیر بریدونه ناکام شوې دي.

هغه څه چي د اهميت وړ دي دا دي چي موږ بايد په اړه تمرکز ولرو چي د افغاني امنيتي ځواکونو د يکشنبي د ورځي د هلو ځلو درناوی په کار دي، هغوي بايد چي د حساب لپاره چمتو وي خو موږ د دي سره بايد دا هم ومنو چي د تيري يکشنبي د ورځي څخه هغوي د پند او زده کړي لپاره تيار دي او دا چي هغوي د افغانستان خلکو ته په پرانيستي توګه د بريد عواقب څرګندوي.

د حساب ورکولو سره بايد ټول د مجرمينو د بريد په وړاندي هوښيار او بيداره و اوسي او افغانان بايد د خپل دولت سره يو ځای د ترهګرو بريدونو په وړاندي يو موټي شي.

## بالا مرغاب ته ۸۰ کورنۍ راستني شوي

سږ کال د داخلی بي ځايه شويو کسانو لومړی ډله تيره اوونی د هرات د ولايت څخه د بادغيس ولايت بالامرغاب ولسوالی ته ستانه شوه. له ۸۰ څخه زياتي کورنی چي نږدي ۵۰۰ کسانو په کي شامل دي د ۹ مياشتو تاوتريخوالی او جګړي وروسته خپلو کورنو ته ستانه شوي دي.

د راستيدني دا عمليات د کډوالو د چارو د رياست، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کميشنری، نړيوال خوراکي پروګرام او د کډوالی د نړيوالي اداري له خوا په ګډه تنظيم شوی دی. د راستنيدونکو کورنيو لپاره د هغوي تر کورونو پوري د ترانسپورت اسانتياوي په نظر کي نيول شوي او همدارنګه د غير خوراکي توکو مرستي لکه کمپلي، ترپالونه او پلاستکي توشکي هم ورسره مرسته کيږي. کله چي هغوي بالامرغاب ته ورسيږي نو د نړيوال خوراکي پروګرام له خوا د هغوي سره د اوړو، نسک، غوړيو او مالګي مرتسه هم ترسره کيږي.

اټکل کيږي چي د هيواد په کچه نږدي ۱۵۰،۰۰۰ داخلي بي ځايه شوي کسان موجود دی چي له دي جملي څخه نږدي ۱۱۱،۰۰۰ کسان د هيواد په سويلي ولايتونو کي موجود دي.

## د لغمان او لوګر په ولايتونو کي د کار په بدل کي خوراکي توکي

د لغمان د ولايت نږدي ۹،۰۰۰ کسان به د نړيوال خوراکي پروګرام د کار په بدل کي د خوراکي توکو د پروګرام د پروسي څخه ګټه پورته کړي. اټکل کيږي چي نږدي ۱،۶۳۶ ټنه غنم به د نړيوال خوراکي پروګرام له خوا د دي ولايت په ۵ ولسواليو کي د سړک د جغل اچولو لپاره و ويشل شي.

د لوګر د ولايت د ځلورو ولسواليو څخه به نږدي ۳،۲۰۰ کسان د نړيوال خوراکي پروګرام د کار په بدل کي د غذا د کار کولو لنډ مهاله فرصتونه تر لاسه کړي. نړيوال خوراکي پروګرام به په برکی برک، خوشي، خروار او پل عالم ولسواليو کي د راتلونکو څو مياشتو په ترڅ کي د کار په بدل کي د غذا ۱۱ پروژي تمويل کړي.

## تولنيز ترانسپورت ته د ښځو د لاس رسي ښه کول

د کابل او هرات په ولايتونو کي به په عامه ترانسپورټ کي د ښځو، ماشومانو، سپين ږيرو او معيوبو کسانو لپاره د يوي نوی پاليسي پرا اساس نږدي ۳۵ ٪ ځوکي په نظر کي نيول شوي.

په دې اړوند پیغامونه او نښاني تیارې شوي او تمه کیږي چې په دې وروستیو کې به په بسونو ونښلول شي. د نږدې ۴۰ بسونود موټر چلوونکو او نګرانانو لپاره ټرانسپورټ ته د ښځو د ښه لاس رسي په موخه یو ورکشاپ په نظر کې نیول شوي دي. د دې پالیسي د تطبیق په اړه به د ښځو شبکه نظارت وکړي.

د دې نوښت او د یونیفیم د نورو نوښتونو په اړه د مطبوعاتو پاڼې څخه معلومات ترلاسه کړئ.

## په ننګرهار کې روزنیز مرکز ځایی حکومتی چارواکو ته وسپارل شو

د ننګرهار په ولایت کې به د یوه نوی حرفوی مرکز څخه سل پخوانی جنګیالی او ۴۵ ښځینه کار کوونکي ګټه پورته کړي. هغې پروژې چې د ننګرهار د حرفوي روزنې د مرکزد ارتقا په چارو یې کار کاوه، بشپړ شوې او تمه کیږي چې سبا به د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ښاري پراختیا د ډلې له خوا سیمه ییز حکومت ته په رسمي توګه د جلال آباد په ښار کې وسپارل شي.

د دې مرکزونو څخه د پخوانی جنګیالیو زیانمونکو کسانو لپاره د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معیوبینو د وزارت د پخوانی جنګیالیو لپاره د حرفوي روزنو د اساسی پروژې تر نامه لاندې کار واخیتسل شي.

د دغو پروژو په اړوند، د نورو  معلوماتو لپاره مطبوعاتي پاڼه تر لاسه کړي.

## پوښتنې او ځوابونه

**صبا تلویزیون:** پاکستان وایي چې هغوي به له پاکستاني طالبانو سره مذاکره وکړي. آیا فکر نه کوئ چې دا کار به هغوي ته د لا پیاوړي کیدلو موقع په لاس ورکړي؟ دوهم دا چې، د ملي امنیت رئیس ویلي دي چې په ولسمشر کرزی باندې د اپریل د ۲۷ برید د پاکستان په باجوړ کې طرحه شوې و. ستاسو نظر په دې هکله څه دی؟

**یوناما:** ملګرو ملتونو په دې هیواد کې له یاغیتوب سره د معاملې کولو لپاره د یوه ګډو غبرګون ورانديز کړی دی. موږ اړتیا لرو چې له افغانستان او پاکستان دواړو څخه یو ګډ غبرګون و وینو. موږ دې ته اړ یو دا وویني چې د افغانستان او پاکستان وروڼه هیوادونه لاسونه سره ورکړي او هغو کسانو ته ماتې ورکړي چې په دواړو هیوادونو کې د سولې او ثبات پروا نه لري. موږ په څرګند ډول د دې کار نښې نښانې په دا تیرو میاشتو کې لیدلي دي. موږ په دې وروستیو اوونیو کې د پاکستان له نوی حکومت څخه هڅوونکې نښاني لیدلي دي. موږ غواړو د افغانستان او پاکستان تر منځ دغه د همغږی هڅې وهڅوو چې له هغه ګواښ سره معامله وکړي کوم چې د دواړو هیوادونو خلک تهدید وي. هر ډول هڅې چې کیدای شي د هغو کسانو چاره وکړي چې په دواړو هیوادونو کې سوله او ټیکاو له پامه غورځوي باید د افغانستان د خلکو او د پاکستان د خلکو په مشرتابه پر مخ ولاړې شي. اجازه راکړئ د دغې سیمې له خلکو سره د ملګرو ملتونو له مرستې کولو څخه ډاډ در کړم چې د دغه جبرې اغیز چاره وکړي.

**راديو آزادی:** د افغانستان ځيني سياسی کارپوهان ادعا کوي چي يو شمير افغاني مسولين د برياليتوب په ورځ په ولسمشر کرزی باندې بريد کې شامل وو. آيا تاسي له دې سره موافقه لرئ، دوهم، آيا تاسي د پاکستان او طالبانو تر منځ خبرو پر ضد ياست که څنګه؟

**یوناما:** اجازه راکړئ دا موضوع څرګنده کړم چي آيا موږ له سرحد څخه ها خوا له ياغيانو سره د پاکستان له خبرو کولو سره موافق يو او که مخالف. یوناما هيڅ ماموريت نه لري چي د پاکستاني چارو په باب خبري وکړي. زموږ د علاقي وړ موضوع د افغانستان د خلکو خونديتوب، امنيت او پرمختګ دی او دا هغه څه دي چي موږ ورته پاملرنه کوو. د ملګرو ملتونو په حيث موږ د غړيو هيوادونو يوه موسسه يو او پاکستان د ملګرو ملتونو يوه خورا مهمه برخه ده او البته، چي موږ خپل غړي هيوادونه هڅوو، چي په ګډه سره همکاري وکړي ترڅو هغه ګډې ننګونی له منځه يوسي چي هغوي ورسره مخامخ دي او دا چي نړيواله ټولنه هم ورسره مخ ده. موږ غواړو دا ووينو چي افغانستان او پاکستان له نږدې ګډ کار وکړي او موږ په دې وروستيو اوونيو کې په دغه لوری يو شمير هڅوونکو نښې نښاني ليدلي دي.

ستاسي د لومړۍ پوښتني په باب، دا يوه د انديښني وړ موضوع ده او موږ د افغانستان د امنيتي ځواکونو له خوا د همدغي موضوع په باب انديښنه ليدلي ده چي موږ يي هرکلی کوو. تاسي پوهيږئ چي سړی په دا رنګه يوه پيښه کي بايد دوو شيانو ته پام وکړي. آيا د افغان امنيتي ځواکونو چلند د دغي پيښي په بهير کې څه و او آيا هغوي کوم درسونه له دا ډول پيښي څخه وروسته زده کړي دي او کوم فعاليتونه يي سر ته رسولي دي چي ډاډ ورکړي د ا ډول واقعه بيا نه شي پيښيدای. دا دواړه مهم لاملونه دي چي سړی دې ته اړ دی قضاوت وړ باندې وکړي. که چيري موږ دغو دواړو کليدي ساحو ته وګورو، لومړی آيا هغوي د دغي پيښي د پيښيدلو په جريان کې څه عمل سرته ورساوه؟ هغوي دا بريد په څو دقيقو کې بند کړ او له منځه يي يووړ. دوهم تاسي بايد وګورئ چي افغان امنيتي ځواکونه کوم عمل سرته رسوي چي د دغه بريد څخه وروسته حالت چاره وکړي، او د يوې اوونی په د ننه کي تاسي وينئ چي د دغي پيښي د جنايت کارانو او د هغو اشخاصو پر ضد چي په دغه بريد کي به د مرستي لپاره شامل وو او يا به نه وو افغان امنيتي ځواکونو غوڅ عمل سر ته و رساوه.

**ايرنا:** د تيري يکشنبي د ورځي د بريد په وړاندې تاسو په دې ټينګار وکړ چي موږ بايد په ځينو کليدي واقعيتونو باندې پوه شو، آيا تاسو کولای شئ موږ ته و واياست چي دغه واقعيتونه کوم دي؟

**یوناما:** مهرباني وکړئ وروسته زما سره خبرې وکړئ او زه به هغه څه تاسو ته تکرار کړم چي تر مخه مي په دې اړه ويلي دي.

**کليد راډيو:** د ولسي جرګي رئيس ښاغلي قانوني د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې په لړ کي د نړيوالي ټولني د نوی پلان په اړه ويلي دي چي د هغه له مخي به د نړيوالي ټولني د مرستو ۵۰ په سلو کي بزګرانو ته برابريږي، نو ولي پخوا دغه مرستي نيغ په نيغه حکومت ته برابريدلي؟ او تاسو د يونيفيم له خوا د نوې پالیسی په اړه و ويل چي په دې توګه به ښځي په برابره توګه عام ترانسپورت ته رسيدنه ولري، تاسو ولي په دې فشار نه راوړئ چي د ښځو پر خلاف د تيري مخنيوی وکړئ، د بيلګي په ډول د افغانستان په شمالي ولايتونو کي ډيري ښځي د دې قرباني شوي دي؟

**د یوناما خبری کنفرانس**

**یوناما:** ستاسي د لومړۍ پوښتني په ځواب کي چي د نشه يي توکو پر ضد د دولت د پلانونو په اړه چي غواړي زياتي مالي مرستي بزگرانو ته ورسوئ، ښکاره ده چي ملگري ملتونه د دولتي چاړواکو سره له نږدې څخه کار کوي چي په کره توگه دغه کار وکړي، ملگري ملتونه د بزگرانو لپاره د بديل معيشت د مدافعينو څخه دی، په داسي حال کي چي دلته د دغو توکو د له منځه وړلو په اړه د رسنيو زيات بحثونه او هلي ځلي شته چي په دي هيواد کي د ترياکو د توليد مخنيوی وشي. ملگري ملتونه د افغانستاند حکومت سره په دي اړه پوره توافق لري چي د هغو بزگرانو لپاره بديل معيشت برابر شي چي د کوکنارو کښت کوي، چي هغوي په هيواد کي قانوني کرکيله وکړي. ستاسي د پوښتني د دوهمي برخي په اړه چي د ښځو په وړاندې د تيري موضوع ده بايد ووايم چي ملگري ملتونه د ښځو لپاره د تيری په مقابل کي يو له ډيرو قوي مدافعينو څخه دی، که چيری زه يوازې تاسو ته دا څرگنده کړم چي د ملگرو ملتونو د نفوسو صندوق او يونيفيم د هغو ښځو لپاره د مشاورت او ارجاع کولو د مرکز په جوړولو کي ستر نقش لوبوي چي په خپلو تولنو او کورنيو کي د تيری له امله ځوريږي. د هيواد په سترو ښارونو کي دغه ډول ښځينه مرکزونه جوړ شوي دي چي اړو ښځو ته ملاتړ او مرسته ورسوي. که چيرې تاسو په عمومي ډول د دي ستونزې په اړه ليوالتيا لرئ نو زه تاسو رابولم چي زموږ سره يو ځای په هرات، جلال آباد او مزار شريف کي د دغو مرکزونو څخه ليدنه وکړئ او موږ کولای شو چي تاسو ته د دغي ستونزې د حل په لاره کي سرته رسيدونکي کار و ښايو.

**راديو آزادی:** زه غواړم ستاسو په نظر باندې د هغو اغيزو په باره کي پوه شم چي د پاکستاني دولت او د طالبانو تر منځ د سولي په پايله کي افغان وگړو ته متوجه دي؟

**یوناما:** ميرمني له تاسو مننه. زه فکر کوم دا به د هغي مخکيني پوښتني تکرار وي چي ما د مخه ځواب ورکړ. ملگري ملتونه تل دا خبره واضح کړې ده، دا يو سيمه ييز بغاوت دی موږ ته اړ يو چي يو سيمه ييز حل ولرو او موږ غواړو چي و وينو د پاکستان او افغانستان وروڼه هيوادونه لاسونه سره ورکړی، څو هغو خلکو ته ماتي ورکړی چي کوښښ کوي په دواړو هيوادونو کي سوله او ثبات کمزوری کړي. ملگرو ملتونو تل دا څرگنده کړې ده چي موږ دې ته اړ يو تر يوازې ساده پوځي عمل نور څه زيات و وينو. موږ غواړو پراختيايي عمل و وينو او موږ اړ يو سياسي پراخ عمل و وينو چي په هغه کي د سرحد د دواړو خواو سياسي پراختيا شامله وي. موږ هيڅ ماموريت نه لرو چي د هغه څه په باره کي تفسره وکړو چي د پاکستان خپلواک حکومت يي په خپله خاوره کي سرته رسوي. خو موږ لا د وخته دا څرگنده کړې ده چي موږ ته اړ يو دا و وينو چي د افغانستان او پاکستان وروڼه هيوادونه په گډه کار کوي، چي څو دغه ياغيتوب ته ماتي ورکړي چي هغه نه يوازې پوځي هڅو ته اړتيا نه لري بلکي پوخ پراخه هڅي هم ايجابوي او همدارنگه پراختيايي هڅي. دا چي آيا دا هڅي به بريالی شي او يا نه، يوازې وخت به دا په ډاگه کړي. اجازه را کړئ ډاډ در کړم چي ملگري ملتونه به هر هغه نقش ولوبوي چي د امکان په حدودو کي له دواړو هيوادونو سره په کاميابۍ کي ملاتړ کولای شي.

ډيره ډيره مننه

---